# د ډاکټر فرخنده لیاقت ازاد نظمونه پابند فکرونه(تنقیدي جاج)

## A Critical Analysis of the Free Verses and Binding Thoughts of Dr. FarKhanda Liaquat

طفیل احمدزریاب یوسفزی*

اباسین یوسفزی•

**Abstract:**

Free verse is the modern genre of Poetry that had brought the great change in the literary world. The free verse or verse libre was introduced by the French poets and then other world welcomed this new genre in their own literature. As like other world Urdu and then Pashto also accept this new genre after great struggle because some of the senior writers were not ready to accept this new genre. In Pashto literature Free Verse has now his own position and mostly Pashto Poets are trying their best to create good Free verses. Like other poets, Dr. Farkhanda Liaqat is also one of them who is writing free verses and has given a new style and way to the genre. In this Paper we are going to explore the new and fresh ideals of the fresh Free verses of Farkhanda Liaqat. We will discuss the origin of Free verse and then its evolution from France to Western Literature and then to the Eastern Literature. After that we will also discuss how Pashto literature was opposing this new genre and then how it made position in Pashto literature.

**Key Words:** Free Verse, Verse Libre, Genre, Origin, Western literature, Eastern literature, and Fresh Ideas.

انسان چې پیدا شوی دی نو د روسو په خیال ازاد پیدا شوی دی او بیا د خپلې معاشرې مختلفو قدغنونو هغه په خپله ولقه کښې اخستی دی او پابند کړې ئې دی یعنې انسان په خپله ازادۍ کښې هم پابند او غلام دی خو علامه اقبال وائي.

تیرے آزاد بندوں کی نہ یہ دنیانہ وہ دنیا

یہاں مرنے کی پابندی وہاں جینے کی پابندی

خو دلته مونږ دډاکټر فرخنده لیاقت د آزادو نظمونو په حواله خبره کوو چې د هغې په وړومبۍ شعري مجموعه " څۀ حقیقت څۀ د خوبونو دنیا" کښې لکه د ملغلرو د خپل انفرادیت سره سم د ذو ق د تسکین لارې جوړوي. ډاکټر فرخنده لیاقت یوه شډله بډله پښتنۀ مېرمن ده چې د خپل فکر او ادراک په نور د خپل نوي کهول روزنه د پښتو او پښتونولۍ په رنګونو کوي.پښتو وائي ،پښتو کوي او د

* Lecturer in Pashto, Islamia College Peshawer.
• Chairman, Department of Pashto, Islamia College Peshawer.

پښتو پاللو سره سره ورته پښتو ښائي هم.دا د پښتو خوش بختي ده چې د مېرمن فرخنده په شان نازولي پښتنۀ ورته د خپل پښتون فکر رنګين ،شوخ ،او خواږۀ رنګونه راوړي او په ډېره جانانه طريقه ئې ورته پېرزو کوي." څۀ حقيقت څۀ د خوبونو دنيا" د مېړم فرخنده وړومبۍ شعري مجموعه ده چې پکښې د غزلونو نه علاوه نظمونه هم شته. په دغه نظمونو کښې چې کوم آزاد نظمونه دي مونږ به په هغې تحقيقي او تنقيدي نظر اچوو خو اول راځو چې د آزاد نظم په حواله لږ ډېر معلومات وڅېړو.

آزاد نظم د انګرېزۍ نه اردو ته او بيا پښتو ته راغلی دی.آزاد نظم ته په انګرېزۍ کښې فري ورس وئيلی شي.فري ورس د فرانسيسۍ ژبې د ورس ليبری ترجمه ده.

"د آزاد نظم ابتدا د فرانس بود لبر کړې ده او د هغه د آزاد نظم په شا جنسي جذبات وو"-(1)

خو چې مونږ د آزاد نظم يعنې د ورس لېبری په حواله انسائيکلو پيډيا برېټنيکا ته ګورو چې په هغې کښې د آزاد نظم د ارتقا او پيداوښت په حواله ذکر دی نو مونږ دا اندازه لګولی شو چې دا د نولسمې صدۍ پيداوار دی.

"19th century poetic innovation…and rhyme is optional."(2)

**ژباړه**: په نولسمه صدۍ کښې د آزاد نظم نوي خيال د فرانس دشاعرۍ د روايتي عروضو او قافيو نه آزاده کړه.(ورس ليپری) آزاد نظم د مقرر کړې اصولو نه برعکس په بحر کښې موزونيت ته پام لرنه وکړه.په قرون وسطي کښې چې په فرانس کښې کوم روايتي عروض موجود وو هغه ئې پريښودل. په آزاد نظم کښې د مصرعو لنډ والی اوږدوالی د نظم د سنس سره بدلېږي رابدلېږي. يوه مصرعه د يو بند په ځائی ليکلې شي او قافيه پکښې آپشنل وي.

خو آزاد نظم په اتلس سوه او اتيا لسيزه کښې د څو فرانسيسي شعراؤ آزادانه ايجاد وو.او ددې وکيلان او نظرياتي ملګرو کښې ,Jules Laforgue , Francis vieleGrifgue Gusta nekahn او Eduuard Dujardinشامل وو.د آزاد نظم شعري ساخت د Rimbaudد نثري نظمونو نه هم اګاهو د Victor Hugo په موزون او بحري تجربو کښې وجود لري خو د آزاد نظم خپريدنه د نولسمه صدۍ عيسوۍ په آخره کښې د نورو ملکونو شعري رجحانات متاثره کړل او دغسې د موزونيت او قافيې د قيد نه آزاد نظم د مغربي جديدې شاعرۍ روايت جوړ شو.

انسائيکلو پيډيا برېټنيکا ليکي:

"هغه شاعري چې په يو خاص زېر و بم او موسيقيت کښې ترتيب شي چې دباقاعده شاعرۍ په شان پکښې د وزن او بحر قيد نه وي او صرف د اضافي مفهوم په حواله آزاده يعنې فري وي او نه پکښې د روايتي شاعرۍ خواص موجود وي بلکې ددې طرز په آواز ، لفظونو ، جملو وغيره کښې بحر او آهنګ سره متعلق وي. ځکه خو آزاد نظم د تصنع او بعضې روايتي ښکلا د اظهار په ځائی يو لچکدار او منظم جديد اندازلري او د ژبې خاص خواږۀ".(3)

ازاد نظم که یو خوا دلفظونو د آهنګ خوارۀ لري بل خوا پکښې د بحر یو داسې موج غورځنګونه وهي چې د اول نه تر آخره پورې ئې خوارۀ او تاثیر قائم وي.ډاکټر سلمه شاهین لیکي:

" تر څو چې په پښتو کښې د نظم او بیا د جدید نظم تعلق دی نو دا خبره ظاهره ده چې د یو ادبي رجحان د نوي تحریک له کبله جدید نظم په پښتو کښې د نورو ژبو نه وروستو راغلی دی. شروع ئې د شلمې صدۍ د ابتدا نه کیږي خو که مونږ د پښتو د ملي شاعرۍ د هغه دورې خبره په نظرکښې ساتو د چرته نه چې شروع کیږي نو بیا دا وئیلی شو چې نظم د قدیم او هم جدید هیئت له رویه په پښتو کښې ډېرې زړې نخښې نښانې لري".(4)

مونږ چې د آریائي قامونو د مذهبي کتابونو جاج اخلو نو په هغې کښې هم د جدید معري نظم او آزاد نظم بڼه جوته ده.داور خان داود په دې حقله لیکي:

"که زمونږ د لرغونو سندرو قالب ، سکښت،جوړښت او هیئت په غور مطالعه شي نو دا هم د آزاد نظم چې دمعري نظم یو ترقي یافته شکل دی د هیئت او شکل سره ډېر نژدې والی او ورته والی لري.لکه د ملکیار غر شین رجز ،د قطب الدین بختیار سندره،د شیخ کټه متي مناجات،د خرشبون نارې او رعبائۍ ،د اسماعیل نیکه نارې ،د هوتک بابا سندره او د بېټ نیکه مناجات".(5)

که مونږ د خپل فولکلور جاج اخلو نو د هغې ملي اوزان هم داسې دي چې د جدید آزاد نظم د آهنګ سره سم دي. او جوړښت ، هیئت او شکل ئې هم د آزاد نظم په شان دی ،لکه ټپه ، نارې،غاړې، لوبې، غړونه،کسرونه ، د ښادۍ او ماشومانو سندرې او داسې نور اصناف چې د ردیف او قافیې د قید نه ازاد دي او خپل اوریجنل خوارۀ لري.خو مونږ ورته ځکه آزاد نظم نه شو وئیلی چې دغه زمونږ په خپل ملي اوزانو کښې دي.او خپل ځانګړې حېثیت او شناخت لري.

د هند د سیاسي ، سماجي، معاشي،معاشرتي او نفسیاتي اړې ګړې سره سم فرنګیانو دلته خپلې پنجې ښخې کړې . د هغوې د ادبیاتو اثر ددې ځائې په مقامي ژبو هم وشو.ددې ځائې تعلیم یافته لیکوالو د مغربي ادب لوسته وکړه او خپل ادب له ئې د مغرب نه هیئتي او موضوعاتي رنګونه راوړل او د خپل روایتي موضوعاتو نه بغاوت شروع کړو.مغرب هم د خپل فکر او نظریو د ترویج او اشاعت دپاره نوې لارې چارې ونیولې او ددې ځائې لیکوال ئې په هر لحاظ متاثره کړل. او هم په دغه تاثر کښې پښتو ادب هم د مغرب نه ډېر نوې نوې جانرونه او اصناف قبول کړل چې یو پکښې آزاد نظم هم دی.

" په دې وجه شاعرۍ کښې ازاد نظم دې دپاره یو ښۀ غوره او د کار صنف دی چې د قدیم نظم برعکس ټول زور ئې په موضوع دی. د هیئت پابندي پکښې نشته صرف وزن پکښې ضروري ګڼلی شي".(6)

په پښتو ادب کښې ايوب صابر د آزاد نظم وکيل وو او په آزاد نظم ئې ډېر زيات کار کړې دی.او هم د هغه په زيار او کوشش آزاد نظم په پښتو کښې ځانله ځائی پيدا کړې دی.ګنې دا يو حقيقت دی چې کله هم پښتو ته د انګريزي، يا بلې ژبې نه نوې صنف راغلی دی نو پښتنو ليکوالو ئې ښۀ په نره مخالفت کړی دی.چې کله آزاد نظم راغلو نو حمزه بابا ئې په دې الفاظو مخالفت کړی وو.

"زۀ د ازادو نظمونو ملګری نه يم او مخالفت ئې هم غوره نه ګڼم ځکه چې زۀ پوهيږم چې دا تل د انساني خوښې نه پيدا کيږي ... هسې که مونږ سره ښۀ سپيځلي خيالات وي نو ولې ئې د نثر په صورت کښې پيش نه کړو".(7)

د حمزه بابا وينا په خپل ځائی ارزښت لري خو په نثر کښې که مونږ ډېر هم کوشش وکړو نو د آزاد نظم په شان موسيقيت او آهنګ پکښې نه شو اچولی ځکه چې آزاد نظم د فکري بلوغت سره سم د احساس او جذبې سپيځلتيا او فني مهارت غواړي .او هم دغه وجه ده چې آزاد نظم ليکل اسان کار نه دی.دډاکټر اباسين يوسفزي د وينا تر مخه:

" آزاد نظم چې د پابندې شاعرۍ ماهر شاعر ليکي نو ددې دننه د موجود وزن پوره خيال ساتي خو که څوک تش په آزاد نظم ليکلو ځان د شاعر ثابتولو کوشش کوي نو عموماً دغه آزاد نظم بې وزنه او نثري وي.هسې هم آزاد نظم د بحر له قيده آزاد وي او چې وزن ترې هم ووځي نو بيا نثري نظم شي او زما په خيال نظم نظم وي او نثر نثر".(8)

.مونږ چې د اباسين يوسفزي وينا ته ګورو او بيا د آزاد نظم په ارتقا نظر اچوو نو د ډاکټر فرخنده لياقت ازاد نظم که يو خوا فني محاسن لري نو بل خوا پکښې فکري پختګي جوته ده.د صنف نازک د لوړو جذبو سره سره د ژوند په لاړ د ژوند د بقا د اميدونو ډيوې په لاس د صنف نازک د فکري ترجمانۍ د حق ادا کولو په هيله ئې خپل قلم پورته کړی دی او ډېر په استاکارۍ ئې ترې شوخه شنګه فنپاره جوړه کړې ده.

که څۀ هم د آزاد نظم په هيئت او قواره کښې مېډم نظمونه تخليق کړي دي خو ولې بيا هم ددغې (د اباسين سر په وينا) شډلې بډلې پښتنې نظمونه د خپل پښتون احساس په دائره کښې داسې پابند او قيد دي لکه چې لفظونو ئې هم په پښتو او پښتونولۍ ايمان راوړی وي. دا ځکه وايم چې دلته د اکثرو شعراؤ په قول او فعل کښې د تضاد سره سم په عقيده کښې هم د زمکې اسمان فرق دی.کوي يو څۀ وائي بل څۀ او غواړي نور څۀ. په "پښتنه مېرمنه" نومې نظم کښې ليکي:

زۀ پښتنه مېرمنه
زۀ بهادره يمه
زۀ دلاوره يمه

ډېره زړۀ وره يمه
زۀ پښتنه مېرمنه
دلته کښې ناسته پېښور کښې
د بارودو په ډهير
زۀ مزدوري کومه
خپله خواري کوومه
د مرګ د يرې زۀ پټېږمه نه
د داسې سختې نه يرېږمه نه."(9)

او بيا وړاندې ليکي-

په هر ميدان کښې د دنيا سره سيالي کومه
ورته ملا ټيټې نه يم

په دغه نظم کښې که يو خوا د معاصر حالاتو ترجماني شوي ده نو بل خوا د يوې پښتنې نرې مېرمن د پښتون احساس او فکر هغه پېښنګ دی چې پکښې زمونږ د نوي دور د تقاضو رنګونه هم برېښي او د نسوانيت ياوجود پکښې د يوې غېرت مندې حوصلې عکس ليدلی شي.د نوي نسل دپاره پکښې د نوي دور د تقاضو د پېژندګلو او بيا د وخت په قدم د قدم ايښودو لارې او چل هم ورزده کوي.

ډاکټر نصرالله جان وزير ليکي:

"د نړۍ د نورو ټولنو په څېر پښتنې ټولنه کښې هم د داسې ډېرو مېرمنو نومونه تاريخ راوړي دي چې د خپل وخت ستر نابغه ورته وئيل شوي دي.په تېره داسې حالاتو کښې بيا داسې ډېرې ملالې د علم او ننګ په ميدان کښې مخې ته راغلې دي چې د پښتنې ټولنې په بدمرغيو او د روانو ناترسه حالاتو په خلاف ئې د قلم او کتاب، علم او حکمت، د امن او ورورۍ او يو بل دبرداشتولو پيغام ئې هرې چيرې او په هر مقام اوچت کړی دی.ددغسې تکړه ، بااستعداده او باصلاحيته ښځينو څخه يو ښکلې او سپېځلې شاعره، ليکواله، محقيقه،او منلې استاذه فرخنده لياقت هم ده".(10)

ميډم نه صرف خپله وظيفه تر سره کوي بلکې د خپل قلم نه د خپل وطن د وګړيو د فلاح او بهبود کار هم اخلي.د ميډم په نظمونو کښې بلها موضوعات دي که يو خوا پکښې د وطن او اولس د درد څرېکې دي نو بل خوا پکښې د خپل ماضي ،حال او مستقبل په حواله افکار ، د محبتونو ،رومانونو او عشق او ګداز رنګونه پکښې ډېر شوخ او پريوانه موندلې شي . که "د ژوند نخښه" ده او که "مستي که خال دی او که "دا د سرو وطن دی" په خپل ځائی شهکار نظمونه دي.

د مينې ، محبت او ښکلاګانو ليواله موصوفه د خپل فن په نازکو ګوتو کښې د خپل خيال او جذبې په زړۀ د خپل خيالي جهان په ارمانونو کښې ارماني په خندا خندا د ژوند په لار د ژوند په لور په اوچتو سترګو د محبت د رنګينو سندرې وائي او روانه ده.

ددې دور د ښځينه ليکوالو او شاعرانو دپاره يوه رڼا ده چې د جهالت د تيارو سينې شلوي او د خپل فکر په ځل پکښې د اميدونو ډيوې جلوي. انداز روماني لري، فکر پښتون او خيال جانانه . ډاکټر سلمه شاهين ليکي:

"فرخنده د خپل چاپېرچل په کړمو مشکلاتو جبر هم ده او يو ژور نظر هم لري".(11)

او بل ځائې ليکي:

"فرخنده او ددې شاعري يو طاقتور آواز دی. ددې د شاعرۍ نه دا اندازه په اسانه لګي چې يو طاقتوره مور،يو زړۀ خوږې لور،او يوه تابعداره کور ودانې ده.زۀ چې څۀ ليکم دا هر څۀ د دې په شاعرۍ کښې صفا ليدی شي."(12)

د ميډم سلمه ددې وېنا د تائيد دپاره دا يو نظم لوستو ته اړتيا لري.

"يوه اراده کوومه
زۀ د خپل ځان سره وعده کوومه
زۀ پښتنه يمه
د يو پښتون لور يم
دا درته وايمه زۀ
يوه پښتنه ښځه
د چانه کمه نه ده
د ژوند په هر ميدان کښې
د چا نه وروستو نه ده
څومره نرتوب دی ددې
چې د پښتو دائره کښې
دا هر هغه کار کوي
چې د نرې ښځې ئې په اسانۍ سره کولې نه شي
دا اراده زما ده
چرته موقع که راشي
زما پرواز به وي د دوي نه اوچت
يو ورځ به هم راشي

خلق به اومني دا
چې د پښتنو مېړ منو
ثاني بل چرته نشته". (13)

که یو خوا مېرمن فرخنده د خپل معاصر حالاتو او د وخت د تقاضو خبره کوي نو بل خوا ئې په آزاد نظم کښې د رومانیت د خوږو اثر هم جوت لیدی شي.چرته چې د امید او رڼا سره د سکون قلب او احساس سپیځلتیا د عشق او لېونتوب په هوا مست خپل اظهار کوي.ډاکټر سلمه شاهین لیکي:

"ما چې څۀ حقیقت څۀ د خوبونو دنیا د فرخندې د شاعرۍ مجموعه ولوسته خوشحاله شوم چې د نظم او غزل په صنف هم پوره عبور لري او د مضامینو په بیانولو هم قدرت لري.زیاته شاعري ئې روماني ده...فرخندې داسې نه دي کړې که څوک ئې په زړۀ راوریږي د جدائۍ کیفیت دی هم ئې په ډاګه وائي او که د وصال رنګین وختونه دي هم ئې د پټولو کوشش نه دی کړی .زۀ ورته یوه ماډرن روماني شاعره وئیلی شم."(14)

ددغه اسلوب تصویر مونږ په "مستي"، زما پاګل جانانه ،خوشحالو ته مې زړۀ کیږي،زۀ لټوومه تا ،زما زړګی،او بې ګناه یمه نظمونو کښې ښکاره لیدلی‌شو.

دا ستا مینه عجیبه ده نه ئې دا یو څو مصرې د لوستو سره تعلق لري.

"ستا د مینې نه چې ډکې ورځې شپې وې
یو به زۀ ومه یو تۀ به راسره وې
ټوله شپه به وو د مینې په ځانګو کښې
ځومره دا جوتې شیرینې او خوږې وې
یوه نوې شان دنیا وه
په زړګي کښې مو اباده
که وو لرې د یو پل نه
خو به داسې ښکاریدلې
تۀ مې زړۀ کښې اوسیدلې
هر طرف ته به بس تۀ وې
ما به ستا سترګې لیدلې ستا خبرې اوریدلې
نه مې غم وو نه مې فکر
بس ارمان به مې یو دا وو
چې هر وخت مې تۀ لیدلې
تا د مینې کړې خبرې

او بس ما به اوریدلې
زۀ به ستا نه شرمېدلې
ستا په غېږ کښې مې سر ایښی
پټه پټه ژړېدلې
کله کله زړۀ کښې راشي
دا ستا مینه عجیبه ده
زۀ تر اوسه پویه نه شوم
ستا به هم چرې یاد بېږم
که زما تۀ یادېدلې".(15)

لنډه دا چې مېرمن فرخنده یوه دردېدلې روماني شاعره ده.د جذبو شدت او صداقت ئې نظمونو ته نوې رنګ او معنې ورکړې دي.د لب و لهجې قوت ئې لفظونو له تاثیر ورکړی.د حسن او رنګ ذکر ئې ترخې لمحې خوږې کړې دي او د خپل پښتون سپېڅلي محبت په رنګینو کښې ډوب زړۀ د پښتني اقدارو او روایاتو د دائرې په داسې پابنده طریقه آزاد ساتلې چې د خپل دور د تقاضو شناخت هم کوي د وطن او اولس سره ودرېږي هم او د خپل نازولي ارمان په څنګل د ځان سره د خپل زړۀ د حسرتونو په مزارونو د اوښکو ډیوې هم بلوي.د هغې شاعري د خپل لوستونکي دپاره د امیدونو یو مشال دی.ځکه چې د هغې په شاعرۍ کښې د ځوانۍ د حسرتونو امنګونه ،د جذباتو او احساتو ترنګ ،د حسن او رومان بهیر او د وفا او جفا د کیفیاتو اوارداتو صداقتونه په کراتونو موجود دي.څۀ حقیقت څۀ د خوبونو دنیا د بلها حقیقتونو انځورونه البم کړي دي او د بلها خوبونو تعبیرونه ئې ژړلې هم دي او ګټلې هم.

## حوالې

(1)داورخان،داود ،څېړنه او کره کتنه،ملت پرنټرز ،لاهور،۲۰۰۳ ، ص ۲۴،۲۳

(2)Britanica.com/art/verse-libre

(3)www.britannica.com/art/free-verse

(4)سلمه شاهين،ډاکټر،جديد نظم په پښتو کښې،پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون،پېښور ،۲۰۱۲،ص۱۳

(5)څېړنه او کره کتنه،ص۱۴

(6)هم دغه ص۲۴

(7)هم دغه ص ۴۱

(8)د ډاکټر اباسين يوسفزي سره مرکه، ۲۰ اپريل ۲۰۱۸ ،خېبر يونين هال ، اسلاميه کالج پېښور

(9)فرخنده لياقت،ډاکټر،څۀ حقيقت څۀ د خوبونو دنيا ،عامر پرنټ اينډ پبليشرز،پېښور ،۲۰۱۲،ص۳

(10)هم دغه ص۱۲

(11)هم دغه ص۱۲

(12)هم دغه ص ۸

(13)هم دغه ص ۵۲،۱۵۵

(14)هم دغه ص ۹

(15)هم دغه ص ۱۴،۱۱۳